اعدِلُوا قف هُوَ اَقرَبُ لِلتّقوٰی [المائده:۸]

## د افغانستان اسلامي امارت

### دعدلي جزائي محکمو

### داجراآتو

# اصولنامه

بسم الله الرَّحْمَن الرَّحيم

وَبه نستعين.

الْحَمد للّه الَّذي لَهُ الْقُوَّة وَالْقُدْرَة وَالْملك، بتقديره تجْرِي السفن والفلك، وبحكمته الْبَقَاء والهلك.

قل: اللَّهُمَّ مَالك الْملك لَك العظمة والكبرياء، والرفعة وَالثنَاء، وَالْمجد والبهاء، تؤتي الْملك من تشَاء، وتنزع الْملك مِمَّن تشَاء، مِنْك السَّرَّاء وَالضَّرَّاء، وبتقديرك الآلاء والنعماء، لَك الْبَقَاء ولغيرك الفناء تعز من تشَاء، وتذل من تشَاء.

أَحْمَده، على جزيل النعم، وَأَعُوذ بِه من وبيل النقم، وَأشْهد أَن لَا إِلَه إِلَّا الله وَحده لَا شريك لَهُ، وَأشْهد أَن مُحَمَّدًا عَبده وَرَسُوله، صلى الله عَلَيْه وعَلى آله وَأَصْحَابه وخلفائه أَجْمَعين، خُصُوصا على صَاحبه الْمصلى فِي محرابه، الْمُقدم على سَائِر أَصْحَابه، الْبر الشفيق، المكنى بعتيق (الإِمَام أَمِير الْمُؤمنينَ) ، أَبي بكر الصّديق.

وعَلى الزَّاهِد الأواب، والفاروق التواب، زين الأَصْحَاب، حَنَفِيّ الْمِحْرَاب، وَقَاتل المرتاب، أَمِير الْمُؤمنِينَ عمر بن الْخطاب.

وعَلى الطَّاهِر من كل شين، الْمَخْصُوص بالابنتين، جَامع الْقُرْآن، مَعْدن الْجُود وَالإِحْسَان، الإِمَام أَمِير الْمُؤمنِينَ عُثْمَان بن عَفَّان.

وعَلى ذِي النّسَب الرفيع، والجناب المنيع، لَيْث بني غَالب، ومظهر الْعَجَائِب، وَفَارس الْمَشَارِق والمغارب، الإِمَام أَمِير الْمُؤمنِينَ عَليّ بن أبي طَالب.

وعلي اميرالمؤمنين،شيخ الحديت والتفسيرهبة الله اخوندزاده -حفظه الله- ،امابعد:

**۱ – ماده :** تعزیر په عربي کې تأدیب ته ویل کیږي، همداسي په معنی د رد او منع سره راځي او په شریعت کې هغه تأدیب دی چې تر حد په کمه اندازه باندې وي . (۱)

تبصره : د حد او تعزیر په منځ کې فرق په لاندي ډول دی:

۱ - د حد د جزاء مقدار معلوم دی او د تعزیر جزاء د امام و رای او نظر ته مفوض ده . (۲)

۲ - حدود په شکوکو او شبهاتو سره ساقطیږي او تعزیر د شبهاتو سره ورکول کېدای شي. (۳)

۳ - د نا بالغه حد غیر مشروع دی او تعزیر یې مشروع دی. (۴)

۴ - حد په شریعت کي د ذمي لپاره هم شته او تعزیر د هغه لپاره سزا او عذاب بلل کیږي؛ ځکه چې تعزیر په شرع کې د پاکوالي لپاره دی . (۵)

۵ - ځینو متأخرینو زیاته کړې ده چې د حد سزا په امام پوري اړه لري او تعذیري سزا د مېړه او بادار لخوا هم ترسره کېدای شي. (٦)

٦ - هر څوک چې گناهگار دگناه په حالت کې وویني د گناه دارتکاب او فعل په وخت کې د تعزیر صلاحیت لري؛ ځکه چې په شریعت کې هر مسلمان په دې مکلف کړل شویدی چې ناروا او ظلم وویني د خپل قدرت مطابق به د هغه منع کوي ، مگر که د دې امکان و چې امام ته یې پورته کړي، نو بیا دي یې امام ته پورته کړي پر خپل سر دي اقدام نه کوي تر څو چې هغه یې منع کړي.(۷)

---

(۱) : رساله امیرالمومنین في باب التعزیر بحواله ردالمحتار .
(۲) : رساله امیرالمومنین صـ (۴۳) بحواله ردالمحتار.
(۳) : رساله امیرالمومنین صـ (۴۳) بحواله ردالمحتار .
(۴) : رساله امیرالمومنین في باب التعزیر صـ (۴۳) بحواله ردالمحتار .
(۵) : رساله امیرالمومنین في باب التعزیر صـ (۴۳) بحواله ردالمحتار .
(٦) : رساله امیرالمومنین في باب التعزیر صـ (۴۳) بحواله ردالمحتار .
(۷) : رساله امیرالمومنین في باب التعزیر صـ (۴۳) بحواله ردالمحتار .

٧ - رجوع په حد کې صحیح کیږي نه په تعزیر کې. (١)

٨ - په حد کې به مشهود علیه تر هغه وخت پورې بندي کیږي تر څو چې د شاهدانو په اړه پوښتنه کیږي ، خو په تعزیري جزاء کې بند معلق نه دی. (٢)

٩ - په حد کې شفاعت بعد الاثبات جواز نه لري او د امام لپاره یې پرېښوول هم جواز نه لري . (٣)

١٠ - حد دوخت په تېرېدو سره نه ساقطیږي او تعزیر داسي نه دی . (۴)

١١ - په تعزیراتو کې تداخل نشته، خو په حدودو کې شته. (٥)

١٢ - تعزیر او قصاص په میراث پاتیږي، نه حدود. (٦)

١٣ - په تعزیراتو کې تکفیل جواز لري ، په حدودوکې جواز نه لري. (٧)

١۴ : حدود مکفر دي ، تعزیرات زاجر او مصلح دي. (٨)

## ٢ـ ماده :

د تعزیراتو په مقدار کې که څه هم اختلاف دی، مګر راجح داده چې تعزیر مفوض دی و رای د قاضي ته، البته که تعزیر په قتل یا دائمي حبس سره وو بیا اذن د امام غواړي. (٩)

که قاضي هره نوع د تعزیر مناسبه وبلله هغه تعزیر ورکولای شي. (١٠)

---

(١) رساله امیرالمومنین في باب التعزیر بحواله ردالمحتار

(٢) رساله امیرالمومنین: (۴٣) بحواله ردالمحتار

(٣) رساله امیرالمومنین: (ص:۴٣) بحواله ردالمحتار

(۴) رساله امیرالمومنین في باب التعزیر : (ص:۴٣) بحواله ردالمحتار

(٥) بدائع الصنائع: (ج:٥،ص:٥٣٦).

(٦) بدائع الصنائع: (ج:٥،ص: ٥٣٦).

(٧) بدائع الصنائع: (ج:٥،ص:٥٣٦).

(٨) بدائع الصنائع: (ج:٥،ص:٥٣٥). و ردالمحتار: (ج:٣،ص:١٥۴).

(٩) رساله امیرالمومنین: (ص:۴٣) بحواله ردالمحتار وایضا في بحرالرئق: (ج:٥،ص:۴۴).

(١٠) رساله امیرالمومنین في باب التعزیر: (ص:۴٥) بحواله ردالمحتار.

**۳ـ ماده :**

د حدودو په جرمونو او جزاء کې او همدا راز د قصاص او دیت د جرمونو په جزاء کې جریمې ته کتل کیږي؛ نه مجرم ته. (۱)

**۴ـ ماده :**

د تعزیر په جزاء کې جرم او د مجرم شخصیّت او همدا راز زمان او مکان دواړو ته کتل کیږي. (۲)

**۵ـ ماده :**

د حدودو د جرمونو او د قصاص او دیت لپاره چې کومې جزاوې په شریعت کې مقررې شوې دي قاضي ته اجازه نشته چې د مقرره جزاوو په مقابل کې نورې جزاوې مجرم ته ورکړي. (۳)

**تعزیر په څلور ډوله دی :** (۴)

اول -تعزیر : د علماوو او لوړې مرتبې خلگو دی، د داسې خلگو تعزیر په خبرداري سره دی ، هغه داسې چې قاضي ورته ووایې: ماته خبر رسیدلی چې داسې او داسې کارونه کوې .

دوهم- تعزیر : د اشرافو دی ، لکه د قبیلو مشران او تاجران. د داسې خلگو تعزیر په خبرداري ورکولو او د قضاء محل ته په کشولو سره دی.

دریم -تعزیر : د ټولنې د متوسطو خلگو دی چې عام ښاریان دي، د داسې خلگو تعزیر په بندي کولو او کشولو سره راځي .

---

(۱)رساله امیرالمؤمنین: (ص:۴۸) بحواله ردالمحتار باب التعزیر.

(۲) رساله امیرالمؤمنین: (ص:۴۸) بحواله ردالمحتار باب التعزیر: (ج:۳).

(۳)رساله امیرالمؤمین فی باب التعزیر (۳۴) بحواله تشریع الجنائي.

(۴) رساله امیرالمؤمین: (۴۵) بحواله ردالمحتارفی باب التعزیر.

څلورم- تعزیر : د خسیسو خلګو دی ، د داسي خلګو تعزیر په رټلو او وهلو سره راځي؛ البته دغه وهل به پر یوه ځای نه وي .

**تبصره :** د تعزیر په وهلو کي دي له هغه ځای څخه منع کوي چي په حدودو کې منع ورڅخه شوې وې لکه: سر وغيره .

## ۶ـ ماده :

په شریعت کې دتعزیر بېل، بېل ډولونه دي، د شریعت اصول په تعریز ورکولو کې د دغه ډولونو مخه نه نیسي، هرعقوبت چې د شریعت اهداف ورڅخه پوره کیږي، هغه دي تطبیق شي. (۱)

## ۷ـ ماده :

د تعزیراتو په اختیاري جزاګانو کې وژل یا د عضو پرېکول جواز نه لري .

**تبصره :**

مګر زیاتو فقهاوو اجازه ورکړې مصلحتاً که عامه ګټې د ده په مرګ خوندې کیږي ، نو د مرګ جزاء تعزیراً، ورکول کېدای شي،مثلا :(۱) پر فساد باندې دوام کول. (۲) جاسوسي کول. (۳) قتل بالمثقل. (۴) د باطل مذهب دفاع کول. (۵) باطل مذهب ته دعوت ورکول . (۲)

توضیح : د مثال په توګه احناف علماء وايي: که په درانه شي یو نفر ووژل شي د مقتول قاتل ته چي جزاء ورکوي سیاسي تعزیري جزاء ورته وايې ، او ائمه ثلاثه ورته حد او قصاص وايي.

---

(۱)التشریع الجنائي: (ج:۱،ص:۵۱۴) طبع بیروت.

(۲) رساله امیرالمؤمنین: (۵۰) التشریع الجنائي: (ج:۱،ص:۵۲٦) طبع بیروت.

**۸ ـ ماده :**

اسلامي شريعت د مرگ جزاء حداً په څلورو جرمونو کې گرځولې ده، لکه: (۱) د محصن زنا . (۲) قطاع الطريق. (۳) بغاوت. (۴) ردت -العياذ بالله تعالٰی- او په يو ځای کې قصاصا،لکه: په قتل عمد کي ؛البته اذن د امام په ټولو کي غواړي . (۱)

**۹ ـ ماده :**

که حقوق الله او حق العبد سره يو ځای شول قاضي به فيصله اول په حق العبد کي کوي بيا په حق الله کي . (۲)

**۱۰ ـ ماده :**

قاضي ته جائز نه دی چی حکم په عقوبت بدلي کي لکه ديت يا تعزير وکړي ، ترڅو چې عقوبت اصلي منع شوی نه وي په يو سبب د اسبابو شرعيه وو، لکه: قصاص. (۳)

**۱۱ ـ ماده :**

تعزير په هر هغه جنايت کې مشروع دی چې هغه لره حد مقدره نه وي، جاني که حر (اصيل) او يا عبد (غلام) وي؛ نارينه وي اويا ښځينه؛مسلمان وي که کافر؛ بالغ وي که کوچنی په شرط د عقل (۴).

**۱۲ ـ ماده :**

قاضي کولای شي چې تعزير په اهلاک دمال سره ورکړي نه په اخذ دمال سره . (۵)

---

(۱)رساله امير المؤمنين: (۵۰) التشريع الجنائي: (ج:۱،ص:۵۲٦) طبع بيروت.

(۲) المبسوط للسرخسي: (ج:٦،ص:۴۸).

(۳)التشريع الجنائي: (ج:۲،ص:۹۱).

(۴) فتاوٰی الحدود والتعزيرات: (ص:۱٦۹، ۱۷۷) وهکذا فی بدائع الصنائع: (ج:۵،ص:۵۳۴).

(۵)حاشيه معين القضاة: (ص:۲۰۲).

**۱۳ـ ماده :**

د حدود د اثبات په صورت کې عقوبت ورکول واجب التنفيذ دی، په تعزيراتو د حقوق الله کې هم واجب التنفيذ دی؛ اما په حقوق العباد کې شفاعت، صلح، عفو او ابراء صحيح ده. (۱)

**۱۴ـ ماده :**

د تعزيراتو اثبات په حقوق العباد کي په هغو اسبابو سره کيږي چي نور حقوق پرې ثابتيږي ، لکه: اقرار ، بينه او نکول؛ پر دي سر بيره شاهدي د ښځو سره د نارينه وو او اثبات د تعزير په حقوق الله کي په اقرار، بينة، خبر عدل، قرينه واضحه او علم د قاضي سره کيږي؛ د قصاص او حدودو اثبات په شهادت على الشهادت اوکتاب القاضي الى القاضي سره نه کيږي. (۲)

**۱۵ـ ماده :**

که چيري يو نفر لواطت وکړي قاضي دي تر هغو بندي کړي، چې اثار د توبې پر ښکاره شي او که يې لواطت عادت و بيا دې په اذن د امام قتل شي. (۳)

**۱۶ـ ماده :**

قاضي د متهم حبس هغه وخت کولای شي چي يو نفر عادل او يا دوه نفره مستورالحال ورته شاهدي ورکړي . (۴)

**۱۷ـ ماده :**

که يو نفر په قتل، سرقه يا د يو چا په وهلو متهم شي قاضي دي تر هغو بندي کړي چي آثار د توبې پرې ښکاره کيږي.(۵)

(۱) فتاوى الحدود والتعزيرات: (ص:۱٦۹، ۱۷۰)، ردالمحتار: (ج:۳،ص:۲۰۴).

(۲) فتاوى الحدود والتعزيرات: (۱۷۱)، بدائع الصنائع: (ج:۵،ص:۵۳٦).

(۳) فتاوى الحدود والتعزيرات: (ص:۸۴).

(۴)فتاوى الحدود والتعزيرات: (ص:۱۸۳)، ردالمحتار: (ج: ۳،ص:۲۰۵).

(۵) فتاوى الحدود و التعزيرات: (ص:۱۳)، ردالمحتار: (ج:۳،ص:۲۰٦).

تبصره : قاضي به متهم په نفس قسم کولو نه خوشي کوي؛تر څو چې يې کشف الحال کړی نه وي.

**۱۸ـ ماده :**

که چيرې مدعي دقاضي په حضور کې اقراروکړي چې زما دعوه په درواغو وه تعزير دې يې کړي.(۱)

**۱۹ـ ماده:**

قاضي دې د حدودو او تعزيراتو په اثبات کې له زيات دقت څخه کار واخلي، که په عفوه کې خطاء شي دا خير دی تردې چې په عقوبت کې خطاء شي. (۲)

**۲۰ـ ماده:**

تعزيرهرهغه چا ته ورکول کيږي چې ارتکاب د داسې جرم وکړي چې حد ته رسيدلی وي، لکن د حد شرائط په کې نيستي وي،د مثال په ډول: يو څوک چې غلا وکړي خو د محفوظ ځای څخه نه وي(۳)

**۲۱ـ ماده:**

تعزير د تهمت په وجه هم ورکول کيږي، مثلا: يو سړی له فساقو سره کښيني که څه هم فاسق نه وي؛ يا له غلو سره ګرځي که څه هم غل نه وي؛ يا له شرابيانو سره کښيني که څه هم شراب نه څښي، د غه سړي ته تعزير ورکول کيږي . (۴)

**۲۲ـ ماده :**

تعزير د مصلحت په وجه هم ورکول کيږي؛ که څه هم عمل د جرم يې نه وي کړی ، د مثال په توګه: وهل د کوچنيانو پر پريښودلو د لمانځه او اوداسه باندې . (۵)

---

(۱)وثائق والسجلات: (۴۸۶)، تنقيح الحامدية: (ص:٦١).

(۲) حديث الترمذي

(۳)الشتريع الجنائي: (ج:۲،ص:۹۱)بيروت.

(۴) معين القضاة: (ص:۹۱) ، معين القضاة: (ص: ۲۱۵) ، ردالمحتار: (ج:۳،ص:۲۰۷)، فتاوى الهندية: (ج:۲:ص:۱٦۹).

(۵)التشريع الجنائي: (ج:۱،ص:۱۵۱)بيروت، بدائع الصنائع: (ج:۵،ص:۵۳۴).

## ۲۳ـ ماده :

قاضي ته جائز ده چي مجرم ته دوه قسمه يا بالا تر دوه قسمه تعزير ورکړي د مثال په توګه: ضرب او حبس دواړه . (۱)

## ۲۴ـ ماده :

که چيري يو مجاهد يا يو عسکريا د امارت يو کارکوونکی د آمر د امر مخالفت وکړي نو په داسي صورت کي آمر بايد اول نصيحت ورته وکړي، که چيري په نصيحت باندي نه سو اصلاح نو تعزير دي ورکړي، مګر د عذر د اثبات په صورت کې دي تعذير نه ورکوي. (۲)

## ۲۵ـ ماده :

د عسکر تعزير په منع کولو د خدمت څخه جائز دی چي آمر ورته وايي: ته به نور خدمت نه کوې او د موظف کسانو په ليري کولو له وظيفي څخه او هم داسي په قطع د اجرت. (۳)

## ۲۶ـ ماده :

قاضي کولای سي چي جمع په مابين د حد او تعزير کي وکړي ؛خو په مابين د حد او تعزير کي به فاصله په حبس سره وي د مثال په توګه: که يو څوک په مياشت د روژې کښبي د ورځي شراب وڅښي ، قاضي دي حد د شرابو پر جاري کړي، بيا دي يي بندي کړي، بيا دي تعزير په ضرب سره ورکړي . (۴)

---

(۱) عالمگيرية: (ج:۲،ص: ۱٦۹)، معين القضاة المادة: (۳۹۹) ، معين القضاة: (ص:۷۱)، الانقروية: (۸۴۵).

(۲) الهندية: (ج:۲،ص:۱۹۲).

(۳) السياسة الشرعية فى اصلاح الداعى والدعية: (ص:۹۲)، وهکذا التشريح الجنائى: (ج:۱،ص:۵۱۴).

## ۲۷ـ ماده:

## تعزير درې قسمه دی:

(۱) تعزیر باخذ المال (۲) تعزیر باهلاک المال(۳)تعزیر بحبس المال.

تعزیر باخذ المال د اشد ضرورت له وخت څخه پرته جائز نه دی؛ البته د اشد ضرورت په وخت کې به د قضاء له لوړ مقام لکه ستره محکمه او یا د تمیز عالي مقام سره مشوره کوي، وروسته تر اتفاق به بیا فیصله کوي. تعزیر باهلاک المال جائز دی. اوتعزیر په حبس د مال سره، دمثال په توگه: یو سړی متمرد یا مختفي یا ممتنع دی، و محکمي ته نه حاضریږي او د وکیل مسخر طریقه هم نه برابریږي نوله مشورې وروسته په حبس د مال سره فیصله کیږي.

د یادوني وړ ده چي تعزیر بحبس المال بې له قاضي بل څوک نه سي ورکولای. (۲)

## ۲۸ـ ماده:

یو له انواع د تعزیر څخه حبس دی، که تعزیر په حبس سره مجرم ته ورکړې باید حبس د محبس له طرزالعمل سره موافق او برابر وي؛ البته که چیري خوف او ویره د بندي دتیښتي وه، قاضي کولای سي چي هتکړۍ او زولنې ور واچوي . (۳)

## ۲۹ـ ماده:

قاضي کولای سي چي بعض محبوسینو ته تر نا معلوم وخت پوري حبس ورکړي؛ تر څو چي آثار د توبې پر ښکاره کیږي، لکه: بغات یا داسي نور سیاسي بندیان. (۴)

---

(۱) ردالمحتار باب التعزير: (ج:٦،ص:١٠٧).

(۲)ردالمحتار باب التعزير: (ج:٦،ص: ٩٨) و مثله فی الهندية (ج:٢،ص:١٦٧) وایضاً فی الفقه الاسلامي: (ج:٦،ص:١٨٦).

(۳) روضة القضاء: (ص:٣٤٩) المادة: (١٢٨٧، ١٣٠٨) بحوالة كتاب الخراج.

**۳۰.ماده :**

کوم کسان چي د خلکو د اموالو او انفوسو په اهلاک متهم وي قاضي کولای سي چي حبس ورکړي، د مثال په توګه: يو څوک متهم وي د خلګو د اموالو په سوځلو او يا د حيواناتو په وژلو او داسي نوروتخريبي اعمالو؛ترڅو چي دتوبې اظهارله دوی څخه معلوميږي يا پر دوی معلوميږي.(۱)

**۳۱ـ ماده :**

د دين په موضوع کې بند په دې شرط سره جائز دی چې مديون و دائن ته د دين له ورکولو څخه په داسې حال کې منع وکړي چې د دين پر ور اداء باندې قادر وي او دغه دين ثابت په اقرار د مديون، يا په بينه وو او يا په نکول له قسم څخه وي.

**۳۲ـ ماده :**

قاضي هغه مديون ته تعزير بالحبس ورکولای سي چي قاضي قدرت د دې نلري چي له ده څخه حق د ذي حق وصول کړي او که چيري قاضي قدرت درلودی هغه دا چي د مديون په لاس کي عين وي او يا د مديون يو شي په وديعت په لاس د مودَع ( دريم سړي) کي وي او قاضي يې څني اخستلای سي په شرعي طريقه چي هغه ثبوت دی بيا حبس ته ضرورت نسته . (۳)

**۳۳ـ ماده :**

که چيري مديون مهلت وغوښتی لپاره د ورکړي د حق د دائن قاضي دي مهلت ورکړي حبس دي نه ورکوي ، دغه غوښتل د مهلت امتناع د حق د دائن څخه نه ده . (۴)

---

(۱)ردالمحتار کتاب الحدود: (ج:٦،ص:۱۲۳)، بدائع الصنائع: (ج:٦،ص:۱۲۷).

(۲) ردالمحتارکتاب الحدود: (ج:٦،ص:۱۲۳)،بدائع الصنائع: (ج:٦،ص:۱۲۷)، الهندية: (ج:۲،ص:۱٦۹).

(۳) الهداية: (ج:۳،ص:۱۲۰)، معين الحكام: (ص:۲۳۳)، التاتارخانية: (ج:۱۱،ص:۳۲۸).

(۴) ردالمحتار: (ج:۴،ص:۳۵۰)، التاتارخانية: (ج:۱۱،ص:۳۴۱).

**۳۴ـ ماده :**

د مدیون د حبس د مودې اندازه و رای د قاضي ته مفوَّض ده .(۱)

**۳۵ـ ماده :**

که مدیون د دین په وجه بندي سو او دائن غائب سو او مدیون ووایي: ما دین نقد کړی دی، قاضي کولای سي چي مال څني تسلیم کړي او مدیون آزاد کړي او یا مال څني تسلیم نه کړي، ضامن د سر او مال څني واخلي . (۲)

**۳۶ـ ماده :**

که قاضي تعزیر په حبس ورکوي نو د محبوس نوم ، د پلار نوم، د نیکه نوم، سبب د حبس او تاریخ د حبس به لیکي، که معزول سو خط به نوي قاضي ته تسلیموي . (۳)

**۳۷ـ ماده :**

تعزیر په حقوق الله کي و تقدم د دعوی ته ضروت نلري، مدعي د شاهد حیثیت لري او شاهد د مدعي حیثیت لري . (۴)

**۳۸ـ ماده :**

کوم تعزیر چي په هغه کي حق العبد وي اقامه د هغه تعزیر بې له قاضي څخه بل څوک نسي کولای؛ مګر د تحکیم په صورت کي یې بل څوک هم کولای سي . (۵)

---

(۲)الهندیة: (ج:۲،ص:۱٦۸)، ردالمحتار: (ج:۳،ص:۱۹۸)، معین الحکام: (ص:۲۳۴).

(۳) الدر علی هامش ردالمحتار: (ج:۴،ص:۳۵٦).

(۴) الهندیة: (ج:۳،ص:۳۴٦)، البحر: (ج:۴،ص:۳۰۰).

(۵) الهندیة: (ج:۲،ص: ۱٦۷) ، الفتاوی الکاملیة: (ص:۴۷)، شرح المجلة: (ج:۴،ص:۱۱۷-۱۱۸).

(٦)الهندیة: (ج:۲،ص:۱٦۷).

## ۳۹ـ ماده :

اقامه د تعزير په حال د مباشرت كې هر مسلمان كولاى سي او وروسته تر مباشرت يې له امام او قاضي پرته بل څوک نسي كولاى . (۲)

## ۴۰ـ ماده :

هر معصيت چي په هغه كي حد نه وي قاضي كولاى سي چي په هغه كي تعزير وركړي، همداسي زوج كولاى سی چي خپلې زوجې ته تعزير وركړي، د مثال په توگه: يوه ښځه د خپله كوره څخه بغير د اذن د خاوند ووځي او يا ددې په شان نور...البته داسې به يې نه وهي چې هډ يې مات يا تورشي.(۳)

## ۴۱ـ ماده :

كه قاضي په حدودو او تعزيراتو كي وهل كوي بايد په شرعي دُرَه سره وهل وكړي او وهل به هم په شرعي طريقه سره وي . (۴)

---

(۱)ردالمحتار: (ج:۴،ص:۳۵۰)

(۲) الهندية: (ج:۲،ص:۱۶۷).

(۳) الدر على هامش الرد: (ج:۳،ص:۲۰۶).

(۴) الدر على هامش الرد: (ج:۳،ص:۱۶۱)و هكذا فى بدائع الصنائع: (ج:۵،ص:۵۲۸).